شهسوارسنګروال

۲۰۲۴/۰۴/۰۷

# ایا ښکلا پېژندنه علم دی که هنر؟

## لومړی هنر پېژندنه:

## پنځم څپرکی

هنر یو انساني فعالیت دی چې د هنري نوښت بېلابېلې بڼې ښيي لکه موسيقي، تیاتر، سینما، ادبیات، انځور ګری، ترکاڼي او نور د بېلګې په توګه يادولی شو.

هنر د ټولنيز شعور يوه بڼه ده، چې تر ډېره بريده د هنري اثر د پنځوني سرچينه يې طبيعت، ټولنه او ټولنيز مناسبات ګڼلی کېږي ، خوکله کله واقعيتونه نيغ په نيغه او يا هم په سمبوليکه بڼه کارېږي ، چې د توکو سرچينه يې پخپله ټولنه ده، له هغو يې اخلي او د هنر په پسته ، ښکلې او رنګينه ژبه يې بېرته ټولنې ته ورکوي.

د «کانسل» په اند، هنر له طبيعت سره يو والی لري، ولې «ژيد» ټينګار کوي، چې هنر له طبيعت سره د ډغرو وهلو په مانا دی، هنر د زورځواکۍ پر مټ رامينځته کېږي او د ډېرې ازادۍ له امله ساه ورکوي.»

دانته، پترارک او «بوګاچيو» هغه نوښتګر هنرمندان وه، چې د ادب او هنر په ستوني کې د پاينښت نوی ساه وځغلوله ... ولې کله کله به د هنر مينه والو، چې ځنې انځورونه او په زړه پورې تصويرونه وليدل، نو بيا به دا پوښتنه راولاړه شوه :

«دغه تصويرونه او انځورونه، چې زړه راښکونکې دي، آيا هنري ارزښت لري او که ښکلاييز ؟؟ يا ښايي دواړه!!

نو د دې پوښتنې په رڼا کې دې پايلې ته رسېږو، چې د هنر او ښکلا تر مينځ د پولو کرښې ناڅرګندې دي.

يو شمېر هنر پوهانو، «د هنر دندې» تر سر ليک لاندې ګڼلې دي، چې د هنر په موهمو دندو کې د انساني ټولنې د ژوند بېلګو پنځونه، د روزنيزو او ښوونيزو ارزښتونو پېژندنه او په دغه لړ کې د هنر يوه ډېره موهمه دنده د استه تيکی پوهې او ښکلا پېژندنی ، ډيوهې سطحه ده ، چې د ټولنيز ذوق وړتيا په ګوته کړي.

هنر د خپل پيداينښت نه راپه دېخوا په ځو پړاوونو وېشلی شو ، لومړی د هنر پيداينښت او په لرغونو پېرپيو کې، د ودې او پرمختګ بېلابېل پړاوونه، هنر په مينځنيو پېړيو کې د ژوند او مرګ شيبې شمېرلې، هنر او د رنسانس پېر، چې د بيا ژوند په مانا خپل تاريخي اصالت او رسالت ته لاره پرانسته او په پای کې معاصر هنر د ساري په توګه يادولی شو چې ټولنيز ارزښت يې هم د پام وړ دی .

**د هنر پيداينښت:**

تر دغه دمه ډېرو هنر پېژندونکو ، ښکلا پوهانواو ادبپوهانو خپل نظرونه او اندونه د هنر د پيداينښت په ترڅ وړاندې کړيدي او يو شمېر په دې ټينګار کوي، چې هنر د انسان له پيداينښت سره مينځته راغلی دي.

خو ټول څېړونکي او هنر پوهان د هنر په اړه په يوه خوله دي، چې د هنر پيداينښت د «دهيرن» په اند اوفکر، هنر د انسان لپاره د ژوند د اړتياو د پوره کولو يو اصل وه اوهم يوضرورت وريت .

هنر د طبيعت ځانګړنه ده، چې انسان يې د خپل فکري او ذهني نوښت له مخې اجادوي اودودې اوپر مختګ پخلي يې کوي ، د طبيعت توکو ته، دطبيعت شتو او هستۍ ته هنري بڼه ورکوي.

شبلر او اسپنسر انګېرې، چې هنر د لوبو له غريزې څخه مينځته راځي او ګڼشمېر پوهاند د دې خبرې پخلی کوي، چې هنرونه د ښکلا او د نورو اندونو، ذوقونو او د نظرونو د راښکون لپاره رامينځته کېږي.

ومو وېل، چې هنر د انسان له فطرت نه زېږيدلی دی او ډېرو پوهانو د هنر د پيداينښت بنسټ او اساس اته (۸) توکي ګڼلې دي، چې موږ هنرونه او لوبې، هنرونه او ښکلا، هنر او ځان ښودنه، هنرونه او جنسي غريزه، هنرونه او فطرت، هنرونه او د ژوند اړتياوې د ساري په توګه يادولی شو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په خير و لولئ

د ډېرو ټولنيزو علومو او فنونو تعريفونه لکه د طبعي علومو په څېر نه وي، چې څوک دی په ځغرده او کوټلي توګه ووايي چې دوه جمع دوه څلورکېږي، نو ځکه خو هنر هم د کسبي پوهې د مهارت او د انسان د وړتيا په مانا راغلی دی.
انګريزۍ کې هنر د «ارت» په مانا راغلی دی، چې ښايي د لاتيني کلمې له «ارس» نه اخستل شوی وي... خو هنر د ښکلاييزې پوهنې يو اړين توکی دی، هنر د ذهني او معنوي ارزښتونو يوه موهمه وسيله ده او «هنر د انسان د تخليقي او تخيلي وړتيا کاروني او څرګندوني ته وايي، چې ډېری وخت دغه څرګندوني بصري او يا د ليدلو وړ وي لکه انځورګري، د مجسمو تورل او نور.»[1]
په لرغونو زمانو کې، ان هغه مهال، چې انسانانو په سموڅو کې ډله ييز ژوند درلود، د لومړني انسان په توګه يې، يو شمېر داسې هنري توکي وتورل، چې د ژوندانه د وسيلې په توګه ترې استفاده وکړي.
هنرمند، چې د يوې هنري تابلو، د يوه هنري اثر، د طبيعت او ټولنيز ژوند انعکاس کوونکی دی، د همدې ځانګړني پر بنسټ، هنر، هنر دی نه علم.
د هنرمند د موضوع مينځپانګه انسان دی، خو که هنر د هنر لپاره وي، نو هنرمند د هنر له لارې، د انسان له پيداينټ نه تر اوسه پورې د انسان ټولنيزه دب دبه له ياده نه ده ايستلې.

**هنر په لرغوني يونان کې**
په لرغوني يونان کې، چې کومې لوبې، کوم هنري مهارتونه او کوم انساني خوځښتونه چې د يوې موخې او ټاکلي هدف لپاره سر ته رسېدل د لرغوني تمدن د پيل سريزه يې بللی شو.
انسان د خپل ټولنيز ژوند لپا ره ترخې شيبې ګاللې دی او بيا يې راتلونکو نسلونو ته د ژوند مهارتونه د هنر په ژبه منعکس کړيدی، د ا ځکه چې د ټولنيز ژوند انعکاس د هنر غوره ځانګړنه ده .
انسان د ژوند لپاره خوړو او استوګنځای ته اړتيا درلوده، ځښاک، پوښاک او د يوه مزه ناک ژوند لپاره يې هلې ځلې کولې او د ژوند لپاره دغه هاندې هڅې بې هنره نه کېدې، په دې مانا چې هنر يوازې د لوبو وسيله نه وه، بلکې د ټولنيز ژوند د ودې او پرمختګ لپاره يې يوه هنري نوښت او پايښت ته ضرورت درلود.
دا چې «اسپنسر» هنر يوازې لوبه بولي او د انسان د هنري فعالتونو ښکارندوی نشي کولی، ګنشمېر پوهان يې نه مني، بلکې ټينګار کوي، چې هنر د يوې رښتني نړۍ يو په زړه پورې انځور دی، چې د ښکلا پېژندنې تصوير يکې تر سترګو کېږي.
ولې په لرغوني يونان کې هنرې هڅونې ته، ډېرو پوهانو په دې سترګه کتلې دي، چې هنر يوازې د لوبو وسيله نه ده، بلکې ښوونيزې او روزنيزې موخې هم لري.
که موږ د لرغوني يونان د ډرامې د هنر څو بېلګې راواخلو وبه ګورو، چې د اتن لرغونی ښار څومره له هنري پرتم او دب دبو ډک وه.
هنر له انساني ټولنې سره يو ځاې مينځته راغی او له ټولنيز پرمختګ سره يو ځای وده وکړه اوبيلابېل پړاوونه يې خپل کړل .
که له يوې خوا هنر، هنرمندانو، هنرپيژندونکواوښکلا پوهانو اوپه تېره د هنر مينه والو ته د ودې او پرمختګ زمينه برابره کړه، خو له بلې خوا هنرمندانو پخپل هنري نوښت او نبوغ سره هنر ته پرمختيا وبښله او هم پراختيا ...
د هنري نوښت او هنري ادبياتو يوه ستره ښېګڼه په دې کې ده، چې هغه له نورو ژبنې ادبياتو څخه جلا کوي يو هم د تمثيل هنر دی. دغه تمثيلی هنر که ميلاد نه سوونه سوونه کاله پخوا د اتن په ښار کې دود و .
د يو شمېر نښو نښانو له مخې څرګنده شوې چې دلته د ډرامې او تياتر شته پرمختګونه دا په ګوته کوي، چې د هنر دغه بڼه لرغونی تاريخ لري .
زما د څېړنې له مخې لومړنی هنري ډرامه «اسکايی لس» ليکلې ده، چې د ډرامې نوم يې «سپلی اينټ» وه او لوبغاړو به ځانګړې ماسکونه اغوستل د تمثيلي هنر ستره موخه له ځان ښودنې سره تړاو درلود .
خو دا چې د هنري ډولونو له مخې لومړنی هنر کوم هنر وه، چې له انساني ټولنې سره يوځای راوزېږيد؟ په کوټلې توګه نشو ويلی، خو بيا هم د هنر يوه بڼه خو وه، چې له ټولنيز ژوند سره يې د نورو په پرتله اړيکه د پام وړ وه. خو د دې خبرې پخلی په کار دی، چې د هنري ادبياتو ډول، له نورو ادبي هڅو څخه بېل کړو، که څه هم هنر په ليکلي او نا ليکلی ادبياتو کې خپل هنري ارزښت ښېي.
خو په پخواني يونان او روم کې د هنر او ادب پرمختګ، د مينځنيو پېړيو په تاريکيو کې ښکيل شو، خو د رنسانس د دورې رامينځته کېدل، د هيومانيزم په نوم هاندې هڅې، د شکسپير او موليرډرامونه ... دا ټول هغه هنري فعالتونه وو، چې نور هنر يوازې د لوبو او سات تېرئ وسيله نه وه، بلکې له ساينس سره اوږه په اوږه د يوې غوړېدلې ټولنې په لور د ودې او پرمختګ لاره پرانيسته.
د يونان له آتن نه چې راتېر شو په لرغوني مصر کې هم د هنر ډېر لرغوني توکي تر سترګو شويدي. د لرغونو آريايانو په پېر، په ځانګړې ډول په ويدي او اوستايي پېرونو کې يو شمېر داسې هنري لوبې، سپېڅلې دودونه ولسی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

حرکتونه، د سوما او هوما د بوټي راټولولو په څېر هڅې د بېلګې په توګه يادولی شو، چې په هغه پېر کې شتون درلود.

**۲- هنر په مینځنیو پېړیو کی**

د مینځنیو پېړیو په مهال یو شمېر اروپايي هېوادونو کې داسې ټولنيزې ناخوالې رامينځته شوې، چې د هنر، ادب او د بېلابېلو علومو بنسټونه يې ونړول او د ناپوهۍ توره تیاره راخوره شوه اودا هغه مهال وه، چې ډېرو اروپايي هېوادونو مسيحي دين منلی وه.
پاپ، امپراتور، روحاني او مذهبي مشرانو، تېرې لیکنې، کتابونه او هغه مانۍ له مینځه یووړې، چې هلته به هنري، تیاتري او راز راز ادبي او هنري فعالیتونه هنرمندانو سر ته رسول.
خلکو یوازې هغه کتابونه لوستلی شول، چې مذهبي رنګ او خوند یې درلود، وګړو کلیسا ته مخه کړه او هلته به یې مذهبی دودونه سر ته رسول.
که چا به د پاپ او یا کلیسا په اړه څه ویل پرته له کومې محکمې به له مینځه تلل، د مذهبي تعصب له مخې تېره ادبي، علمي او هنري پانګه ټوله یو د بل پسې په اوبو لاهو شوه.
نو ځکه خو دې پېراودورته د اروپا په تاریخ کې، یوه تیاره او له ناپوهۍ ډکه دوره ویلی کېږي. ولې کله چې اسلامي هېوادونه په دې پوه شول، چې په لرغوني یونان، روم او هند کې د تمدن ډېرې بېلګې لا شتون لري، تر ډېره بریده یې ورته لاسرسی وموند او پاتې اثار يې وژباړل.
هغه مهال چې صلیبی جنګونه (۱۲۹۱-۱۱۰۹۶ ز) پیل شول او اروپایانو د مسلمانانو ځنی سپېڅلی ځایونه لاندې کړل، وې لیدل چې دوی د هغه تمدن څښتن دي، چې یو وخت دوئ وه.
خو کله چې عثماني ترکانو قسطنطنیه ونیوله، یو شمېر هغه یوناني پوهانو چې د خپل لرغوني هېواد کیسې اورېدلې وې روم ته مخه کړه او هلته يې خپلې لاسته راوړنې، تېر علوم ، فنون ، ادبي او هنري اثار، د خلکو په مینځ کې دود کړل.
یو شمېر شتمنو وګړو له پوهانو، هنرمندانو، کسبګرو، د لاسي صنعت له کار پوهانو سره اقتصادي مرستې وکړې او هغوئ يې دېته وهڅول چې هنرمندان مجسمی جوړی کړي، لاسي ضايعو ته وده ورکړي او انځورېزې هڅې او پنځونې اروپايي ښارونو ته ورسوي.
لکه څرنګه چې په لرغوني یونان کې د هنري فعالتونو ارزښتونه یوازې د «آتن» په ښار کې ایسار پاتې نشول او د نړۍ یو شمېر نورو هېوادونو ته يې لاره اواره کړه ... همدارنګه د مينځنيو پېړيو تياره سيوري هم اروپايي ټولنه د بدمرغی او ناپوهۍ کندې ته وغورځوله ... ان دا چې د منځنيو پېړیو مذهبی ډرامې، د ایټالیا هېواد کې تر ۱۴۵۴ زېږدي پورې چلیدلې.
خو د رنسانس له زېږيدو سره جوخت (کلاسیک رنسانس د ۱۳ مې پېړۍ له نیمايي پیل شو) په هنر کې یو ځل بیا نوې ساه وچلېده، د هنر د هر ژانر هنرمند پخپلو نوښتونو ښکلې او په زړه پورې آثار وکښل.
«پټراکا، فرانسسکو» petracafranceco له لومړنيو مخکښو (۱۳۷۴-۱۳۰۴ ز) کسانو څخه وه، چې غوښتل یې د لرغوني روم هنري او علمي دب دبه بیا وګوري. ځکه چې په ده باندې د روم لرغونو توکو ډېره اغیزه کړې وه او بیا یې په «لاتینی» ژبې یوه خپرونه پیل کړه.
دی لومړی لیکوال وه، چې د اروپا لرغوني کتابونه، قلمي نسخې، تاریخي اثار او بېلابېلې سیکې راټولې کړي، چې په همدې بنسټ دی د بشريت humanisme د تحریک او خوځښت موسس او پلار ګڼلی کېږي .
له دې پرته «بوکاشیو، فیول، لیونارد، کرسولوراس، اري ستو، تاسو، ماکیاولي، ګیشتاردن او نورو هم د هیومانیزم او رنسانس ودې او پرمختګ ته لاره اواره کړه.
په دغه لړ کې «میکل آنژلو micheangelo د ایټالې یو لوی شاعر، هنرمند، انځورګر او یو نوښتګر انسان او د رنسانس یو غښتلی نابغه ګڼلی کېږي ... دده لومړی شهکار د حضرت موسی (ع) ډبرینه مجسمه ده.
همدا ډول «رافايل»، کلمان مارو، رونارد، رابلې، ګالاوین، مونتېنې، ژرمن پیلون، ارامس، البرشت دورر، هانس هوبايين او نور د ساري په ډول يادولی شو، چې د هنر بیا رغاوني لپاره يې نه ستړې کېدونکې هڅې او پنځونې سر ته رسولي دي.
بیا هم وروستيو پلټنو او څېړنو د هنر داسې بېلګې موندلي دي، چې د مینځنیو پېړیو او د رنسانس د مودې له هنرونو سره د پرتلې وړ دي.
«برښت» هغه څوک و، چې د خپل ښکلي هنر له لارې د مينځنيو پېړيو تېر څېرې کړ او بیا يې د ګالیله ننداره وکړه.
ګالیله يې ولید، چې د حقیقت په پلټلو او موندنو بوخت دی او بیا د هغه د خولې وايي، هغوئ چې حقیقت نه پېژني فقط بې شعوره دي خو هغوئ، چې حقیقت پېژني او هغه دروغ بولي، هغوی تبهکار دی.»[2]
منځنیو پېړیو بیا هم د دې وس ونه موند چې د هنر حقیقت له مینځه یوسي سره د دې چې د روم ټولواکمنی ووېشله شوه، خو د رنسانس په راتګ په ایټا او نورو هېوادونو کې د هنري ارزښتونو رغاونې ته لاره اواره کړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

د شپاړسمې پېړۍ په اوايلو کې د کلاسيکو ادبياتو ګټور نظريات په تېره د اپلاتون او ارستو اندونه له سره ورغول شول او د هغو پخلی وشو.

**۳- د معاصر هنر پراختيا او پرمختيا**

اروپايي هېوادونو چې له مېنځنيو پېړېيو پېنه راواړله، له يوې خوا سياسي، اقتصادي او ټولنيز پرمختګونه ول او له بلې خوا داسې پوهان، هنرمندان او شاعران د علم او ادب ډګر ته راووتل، چې هنر نه يوازې د بنې له مخې پراختيا ومونده، بلکې د مېنځپانګې له مخې ، دښکلاييز نوښت اوارزښت له مخې هم پرمختيا ومونده، چې په دې تړا موږ د اسپاني «طلايي عصر» يادولی شو چې هنر پوهانو د «دېرش» زرو په شاوخوا کې ښکلي اوهنري اثار وليکل.
د بريتانې تياتر او د شکسپير هنري فعالتونه، د فرانسې د انقلاب (۱۷۸۹ ز) نه وړاندې او وروسته علمي او هر ډول ادبي ، علمي او هنري هڅې، د نولسمې (۱۹) پېړۍ په شاوخوا کې له کلاسيزم او نيو کلاسيزم نه رومانتيزم او ان رياليزم په لور چټک ګامونه پور ته کړل .
د «ګوېټه» شيللر، ويکټور هوګو، موليرٍ، تولستوی، چخوف، استانيسلاوسکي او ګورکي په څېر نامتو ليکوالو او هنرمندانو داسې زړه ر ابنکونکي اثار، کتابونه اوليکنې وکړې، چې له يوې خوا يې دښکلا پوهنې له مخې پايښت دپام وړ وواو له بلې خوا د معاصر هنر او ادبياتو لپاره لومړنۍ خښتې او د نوي هنري پېراودوريوه سريزه وه .
له لومړنيو ټولنو راواخله تر اوسنۍ او معاصري ټولنې پورې هنر خپله موضوع له طبعي ښکلاو ټولنيز چاپېريال نه اخلي، هنر يوازې د طبيعت تقليد نه دی، بلکې ټولنيز ارزښتونه هم پخپله خوږه ژبه د خلکو ننداري ته وړاندې کوي... هودښکلا پوهنې له مخې طبيعت د هنر او ښکلا سرچينه ده .
خو هنرمند او ښکلا پېژندونکي د طبيعت ارزښتونه ټولنې ته وړاندې کوي او ټولنه هم د خپل معيار له مخې چې په هنرمند او ښکلاپوهنې باور لري، وايي ښکلی هنر يې پنځولي دی.
د معاصر هنر يوه موهمه ببڵګه دا ده چې هنرمند او ليکوال د فلسفې، ټولنپوهنی، ښکلاپوهنې ، اروا پوهنې ، ادبياتو او دهنري ار ز ښتونوله لارې يا د ليکنې پر بنسټ اويا هم دتمثيل له لارې د ټولنې ذهن، فکر او «اروا» ته لاره پرانيزي.
يو شمېر څېړونکي د معاصر او اوسني پېر، هنر ته په دې سترګه ګوري، چې موږ په دې لړ کې «ماياکوفسکی» يادولی شو. هغه ټينګار کوي، چې په ډېر درناوي بايد د تېرو هنرمندانو د آثارو پخلی وشي، ولې نوی هنرمند ته د هنري نوښت ډګر پرانستل شي. هنر بايد يوازی د لوبو او سات تېرې وسيله نه وي او په پرونۍ فانتازۍ کې ګير پاتې نشي ... هنر له اوسني ساينس سره اوږه په اوږه د غوړېدلې ټولنې په لور د ودې او پرمختګ لاره اواروي.
برتولت برښت د خپل ډراماتيک هنر په وسيله د معاصر هنر په رڼا کې د فاشيزم ناروا بهير تر ګواښ لاندې ونيو.
ده د ګاليله په نمايشنامه کې ډېر پخوانی دود او سنت له مېنځه يووړ او د نوي هنر په ستونې کې ساه پو کړه.
«دا چې قهرمان به تر اخره، قهرمان وي، قهرمان به برې مومي....خو قهرمان به ماتې هم خوري او دا هغه مهال ښه څرګنده شوه چې، کله ګاليله توبه باسي او شاګردان ورته پيغور ورکوي: «بدمرغه ملت چې قهرمان نلري» خو ګاليله ورته په ځواب کې وايي:
«بدمرغه ملت چې قهرمان ته لا اړتيا لري.» ګاليله د ۱۷ مې پېړۍ په دويمې لسيزه کې (۱۶۲۲ ز) د «انګيزيسيون» پر وړاندې، د ځمکې له ګرزېدو، چې يو څرګنده حقيقت وه انکار وکړ.
د معاصرې نړۍ کېن اړخي په ځانګړي ډول په لاتيني امريکا کې د يو شمېر هنرمندانو هڅې دا په ګوته کوي، چې هنر د ژوند او د ژوندي بهير د يوه څپانده سين په څېر په څپو دی. د دغه ډول اندونواوفکرونو پخلي هغه مهال نړيواله بڼه خپله کړه، چې د امريکا په وچه کې د نورو سيمو په تيره د شمالي امريکا په پرتله يوه ډېره وروسته پاتې وچه چې د لاتينې امريکا پنوم نامتو ده ګڼشمېر هنرمندان، ليکوال او شاعران، د يوه انقلابي او هنري نوښت په موخه علمي او هنري ډګر ته راووتل، چې د نړۍ په هنري ادبياتو کې ځانته يوه لاره وټاکله.
د شلمې پېړۍ دغه ادبي او هنري بهير ګڼشمېر پلويان او مينه وال پيدا کړل، هم يې ډېر څه ووېل او هم يې ډېر څه وليکل. که موږ د دغه ادبي او هنري بهير يوه نړيواله ادبي او هنري څېره د ساري په توګه معرفي کړو، وبه ګورو، چې ده دغه ادبي او انقلابي بهير ته څه ورکړل؟
موږ د تاريخ له څنډې د لاتينې امريکا نامتو شاعر «پابلونرودا» يادوو، چې پخپلو ادبي او هنري هڅو يې په امريکا، اروپا او اسيا کې يوه خوځښت ته لاره پرانسته.
پابلونرودا (۱۹۰۴-۱۹۷۳ ز) د نړۍ په درې وچو امريکا، اروپا او اسيا کې د خپل هنر چيغه خلکو او ولس ته ورسوله.
ده اسپانوي ژبه او ادب وپالل او د شعرونو په رنګينه ژبه يې خپل غږ خلکو ته ورساوه او د يوه ملي هنرمند په توګه يې نړيوال شهرت خپل کړ. دغه د چيلي ځمکي نامتو هنرمند لومړی په شعر ويلو پيل وکړ، او بيا په بېلابېلو هنري څانګو کې وځلېد.
لومړی اثر يې په «سانتياګو» (۱۹۲۳ ز) کې خپور شو او په څو ژبو وژباړل شو او ده پخپله په انګليسي او فرانسوي ژبو هم ډېرې ليکنې کړيدي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

لوړې زده کړې د پیدا کوژي (ښووني روزنې) په پوهنتون کې سر ته ورسولې اودښکلا پوهنې له مخې داسې ادبي ، هنري اوعلمي اثا ر وپنځول ، چې اوس هم دده داثار و پخلی کیږي .
د ده هغه هنري اثر «ځمکه زما وطن» (۱۹۳۳ ز) ډېر وځلېد... او دی نه یوازې د لاتینې امریکې وګړو ته خوږ وه، بلکې د برما، فرانسې، اسپاني، ارجنټاین او نورو هېوادونو وګړو هم دده له اثارو سره مینه درلوده.
په ۱۹۳۸ کال د اسپانې په پلاز مادرید کې دده یو بل ګټور اثر چاپ شو، چې نه یوازې په لاتینې امریکا کی بلکې دده سرودونو او هنري لیکنو په ټولې لودیځې نړۍ کې انګازې جوړې کړې.
هغه مهال چې په چیلی کې د یوه نوي حکومت بنسټ کېښودل شو «پابلو نرودا» په ۱۹۷۱ کال د سفیر په توګه پاریس ته واستول شو. خو کله چې په ۱۹۷۳ کال د جنرال «پنوشه» په مشرۍ کودتا وشوه او د چیلي خلک په سرو وینو کی ولمبول شول، دی سخت ناروغه وه او د «سالوادور-الینده» قانونی حکومت چی وپرځول شو او دېرش زره په شاوخوا کې انسانان ووژل شو، په دې سره دده ژوند نور هم بتر شو او د همدې کال په وروستیو کې ساه ورکړه.
د پابلو نرو دا شاعرانه او هنري هڅې د ستایلو وړ دي او دا داسې نه چې نظمونو یې هنري تومنه نه درلوده او چې ګنې یوازي ټولنیزو او انقلابی هڅو ته ځانګړی شوی وو، بلکې حقیقت دا دی، چې دده لیکنې په ادبي ښکلاو هنري ارزښتونو ولاړې وي او هغه د هېکل خبره، هر هنري اثر یوه طبیعي لاسته راوړنه نده، بلکې هر هنري اثر د ټولنیزو هڅو یوه پایله هم ده.
د یوه هنري اوښکلي اثر ښېګڼه دا هم کېدی شي چې ټولنیزې ناخوالې داسې وپنځوي چې موخې یې د خلکو لپاره د پام وړ وګرځي.
دښکلا پوهنې له مخې هنري اثار د خپلې ډلبندۍ پربنسټ ، له یوې خوا خپلې هنرې ځانګې لري او له بلې خوا د هنري ادبیاتو بهیر تر ډېره بریده د تېرو څرګندونو په رڼا کې په ولسي او پلکوریک ، په کلاسیک ، په معاصر او نوي پېرونواودورونو هم وېشلی شو، چې څو لنډې بېلګې داسې دي.

[1]) سنګروال، شعر، ژبه او ادب ۱۳ مخ
[2]) د ډرامې تاریخ او فن ۴۵ مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ